مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقیري ۲۰۱۸/۱۱/۰۳

# د جنرال رازق مرګ ته یوه تحلیلي کتنه

په کندهار کي د جنرال رازق مرګ په افغانانو کي یوه حیرانونکي هنګامه جوړه کړې ده. د جنرال رازق د مرګ په ارتباط د افغانانو نظریات پر دوو برخو باندي وېشل سوي دي. د لومړی کمپ خلک وایي چي د جنرال رازق مرګ د امریکایوه دسیسه وه. هغوی باور لري چي جنرال رازق د جنرال میلر په مستقیم امر وژل سوی دئ. هغوی وایي امریکا نه غواړي چي په افغانستان کي قوي خلګ تبارز وکړي .

مګر دوهمه ډله وایي چي «نه» د جنرال رازق مرګ د طالبانو د نفوذي کس کار وو، او طالبانو ئي مسولیت منلی دئ. هغوی وایي چي مخالفانو څو کرته داسي عملیات کړي دي، او تېر کال د کندهار په ولایت کي جنرال رازق ترې بچ سو، خو د اماراتو سفیر، ډیلوماتان، او څو تنه نور په کښي ووژل سول.

اوس نو، د جنرال رازق مرګ چي هر ډول سوی وي، او یا هر چا چي کړی وي، د دې لیکني اصلي مطلب نه دئ. بلکي د دې لیکني اساسي هدف دا دئ چي دا خبره تحلیل او تجزیه کړو چي امریکا پدې تېرو ۱۸ کلونو کي ولي په افغانستان کي د مشروع او قوي دولتي موسساتو د جوړولو پر ځای پر اشخاصو او افرادو باندي تمرکز او سرمایه ګذاري کړې ده. مطلب مي دا دئ چي د جنرال رازق وژل کېدل په افغانستان کي د امریکا د پالیسی یو ډېره خطرناکه او تباه کونکی اړخ رابرسېره کوي: او هغه دا چي امریکا پدې ۱۸ کالو کي په افغانستان کي د دې پر ځای چي دولتي موسسات تقویه کاندي، او د مرکزي حکومت مشروعیت ور زیات کړي، بلکي په مقابل کي ئی پر اشخاصو باندي پانګونه کړې ده، او د مرکزي حکومت د تضعیف او سنف کولو لپاره ئي کوښښ کړی دئ.

البته په سر کي باید دا خبره هم دلته ور اضافه کړم چي د جنرال رازق مرګ د امریکا د اشغال سره د افغانانو زیاتېدونکی مخالفت او کرکه ښه رابرسېره کړه. په بل عبارت، حتی هغه خلګ چي د امریکا د استعماري سیاست پټ او یا ښکاره پلویان هم دي، هغوی هم د جنرال رازق په مرګ کي د امریکا په مخالفت کي ودرېدل. د امریکا د استعماري چلن سره د افغانانو دغه بېساری مخالفت دا ونښوده چي په افغان ولس کي د امریکا اشغال کاملا منفور سوی دئ .

که څه هم د جنرال رازق رسمي مقام د کندهار امنیه قومندان وو، خو د هغه نظامي او سیاسي اقتدار لدې رسمي چوکاټ څخه بهر او ډېر پراخ وو. قدرت ته د جنرال رازق رسېدل په افغانستان کي د امریکا له اشغال سره مستقیما رابطه لري، ځکه جنرال رازق د خارجي مرستو، په تېره بیا د جنرال پېتریس او نورو امریکایي جنرالانو د حمایت او د دم او چوف په زور، د کندهار مقتدر شخص سو .

د کرازمایتک جنرال رازق عروج او قدرتمن کېدل په افغانستان کي د متحده ایالاتو د هغه خطرناکه پالیسی محصول دئ چي د دولتي موسساتو پر ځای پر اشخاصو باندي راڅرخي. ځکه په افغانستان کي د امریکا پالیسي د نظامي ملیشاوو پر تقویه کولو باندي راڅرخي، نه د افغان حکومت د موسساتو پر غښتلي کولو باندي. د مثال په توګه، پدې تېرو ۱۸ کلونو کي د امریکا د مرستو ۹۵ ٪ فیصده پر امنیتي مسایلو باندي مصرفېږي، او فقط ۵ ٪ فیصده پر ښه حکومتوالي باندي .

په افغانستان کي د امریکا له مضررو پالیسو څخه دا خبره څرګندېږي چي د امریکا هدف د افغان دولت جوړول نه دي، بلکي د محلي زورواکانو مقتدرول دي. د امریکا همدې پالیسی په افغانستان کي د ملیشاوو او زورواکانو لپاره د معافیت کلتور خور کړی دئ. د اداري فساد او رشوت لپاره ئي زمینه برابره کړې ده. د سیاسي مافیا د خورولو لپاره ئي بستر اوار کړی دئ، او د مخدره موادو کاروبار ئي تقویه کړی دئ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په افغانستان کي د امریکا د تباه کونکي سیاست یو بل اړخ دا دئ چي هر څه پر یوه شخص باندي راڅرخي. او که چیري هغه کس له مینځه ولاړ سي، هر څه ورسره تباه کیږي. د ۲۰۰۱ راهیسي، متحده ایالاتو په خپل ټول قوت څو تنه مشخص جنګسالاران او زورواکان تقویه کړي دي، خو په عین زمان کي ئي د ښه حکومتوالی، شفافو انتخاباتو، او ډیموکراتیک نظام د ټینګولو کاذبه ادعا هم کړي ده. د متحده ایالاتو دا ستراتیژي په خپل ذات کي متناقضه ده، او مدام د خپل شکست باعث ګرځي .

د دي پر ځای چي امریکا د سیاسي ثبات او سیاسي مصالحي لپاره اوږد مهاله پالیسي غوره کړي، متحده ایالات تل چټک او آني حللاري غواړي. امریکا په سیسماتیک توګه د افغانستان په ګوټ ګوټ کي محلي زورواکان غښتلي کړي دي، ځکه هغوی د امریکا د لنډ مهالو اهدافو او کټو لپاره ثبات ایجادوي. خو د دي راز پالیسیو اوږد مهاله اثرات د افغان ملت لپاره سخت زیانمن وي، او په مستقبل کي د تشدد، غیر دیموکراتیک نظام، او وارلاډیزم لپاره زهرجن او ورانونکي تخمونه ښندي.

په افغانستان کي، د متحده ایالاتو پالیسي دا ده چي داسي محلي جنګسالاران راپورته کړي چي د امریکا له اشغالګرو قواوو څخه طالبان لیري وساتي. د امریکا دا پالیسي سطحي او کوتاه نظره ځکه ده چي امریکا د دغه راز خلګو د بشر له حقوقو څخه سرغړوني، جنګي جنایات، غیري قانوني معاملات ټول هېروي. امریکا پدې ښه پوهېږي چي د دغه راز زورواکانو تقویه او حمایت په افغانستان کي د ښه حکومتوالی مخه نیسي. د قوي او مشروع موسساتو د جوړولو خنډ واقع کېږي، او د یوه مسول او خدمتګار حکومت د جوړېدو پروسه تباه کوي، خو بیا هم امریکا په خپل ټول طاقت افرادو ته پر موسساتو باندي ترجیح ورکوي.

دغه راز، امریکا په افغانستان کي د افغان سیاست پر جنایي کولو باندي زیاتي پیسي لګوي، او د افغانستان سیاست ئي مطلقا جنایي کړی دئ. مانا دا چي امریکا په افغانستان کي یوازي د سیاسي مافیا او قاچاقبرانو سره مرسته کوي. د ډاکو او زورواکانو سره کومک کوي. د همدې محلي زوراکانو ملیشاوو ته تمرینات ورکوي. د هغوی سره استخبارات شریکوي. او هغوی تدریجا په سیاسي شخصیتونو باندي بدلوي. او په مقابل کي، امریکا د مترقي او ملي ډلو سره دوښمني کوي. هغوی بدنامه کوي، او د کمزورولو لپاره ئي مدام دسیسي کوي .

عیني واقعیت دا دئ چي امریکا په تېرو ۱۸ کالو کي په افغانستان کي یوه داسي حاکمه طبقه ایجاده کړې ده چي پرته له قاچاق، جنایت، او ملیشاوو څخه بل څه نه پیژني. هغوی د ښه حکومتوالی سره هیڅ علاقه نه لري، بلکي هغوی خپل دوام او بقا د امریکا د استعمار په دوام کي ګوري. هغوی د یو مشروع او قوي دولت له موسساتو سره نه پخلا کېدونکي دوښمني لري، او تل هڅه کوي چي مشروع موسسات لړزانه او کمزوري کړي. څو پدې ترتیب د محلي خلګو توجه او وفاداري دوی ته وي، نه دولتي موسساتو.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ